United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

UNITED NATIONS
HUMAN RIGHTS
OFFICE OF THE HIGH COMMISSIONER

**PRESS RELEASE**

26 November 2024
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**ملګري ملتونه د افغانستان حاکم چارواکي هڅوي چې د رسنیو د ازادۍ ساتنه وکړي**

**کابل/ ژنیو د ۲۰۲۴ کال د نومبر ۲۶مه** - په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو دفتر نن یو راپور خپور کړ چې په افغانستان کې د خبریالانو، د رسنیو د کارکونکو او همدارنګه د رسنیزو ادارو پر وړاندې مخ په زیاتیدونکې ننګونې مستند کوي. په دغه راپور کې ویل شوي چې دوی د سانسور او معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې تر سختو بندیزونو لاندې چاپیریال کې خپلې چارې پر مخ بیایي.

خبریالان او په ځانګړې توګه د رسنیو ښځینه کارکونکي له زیاتو بندیزونو او تبعیضي چلند سره مخ شوي چې د دوی د مسلکي کار په کولو کې د دوی وړتیا اغیزمنوي.

په افغانستان کې د رسنیو د ازادۍ تر سرلیک لاندې دغه راپور د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر تر ۳۰مې پورې موده رانغاړي. دغه راپور د دې مودې په اوږدو کې د بشري حقونو د سرغړونو ۳۳۶ قضیې چې خبریالان او د رسنیو کارکوونکي یې اغیزمن کړي، مستند شوي دي. په دې کې ۲۵۶ د خپل سري نیولو او توقیف، ۱۳۰ د شکنجې او ناوړه چلند او همدا رنګه ۷۵ د ګواښونو او وېرونې قضیې شاملې دي.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې، اغلې روزا اوتنبایوا وویل: " د هرهیواد لپاره ازادي رسنۍ یو انتخاب نه، بلکې یوه اړتیا ده. په افغانستان کې خبریالان او د رسنیو کارکوونکي په سختو شرایطو کې کار کوي. دوی ډېری وخت په دې برخه کې له نا څرګندو مقرراتو سره مخ کیږي، چې دوی د کومو واردو په اړه راپور ورکولی شي او د کومو واردو په اړه راپور نشي ورکولای، او همدارنګه د ځینو نیوکو له امله د ویرې او د توقیف له خطرسره مخ وي.

نوموړې زیاته کړه: " موږ له حاکمو چارواکو څخه غواړو چې د دندو د سرته رسولو په وخت کې د ټولو خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو امنیت او خوندیتوب ډاډمن کړي او د رسنیو په سکټور کې د ښځو د کار کولو ارزښت په بشپړه توګه درک کړي".

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنر ولکر ترک ددغه راپور موندنې ډېرې د اندېښنې وړ وبللې او له واکمنو چارواکو یې وغوښتل چې د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ګډون د نړیوالو قوانینو له مخې د افغانستان له ژمنو سره سم خپلې کړنې همغږې کړي.

ښاغلي ترک وویل: " ژورنالیستان او د رسنیو کارکونکي د بشري او خوندیتوب مسایلو تر څنګ د هغو پیښو په اړه چې د دوی پر ورځنې ژوند او په پراخه توګه پر ټوله ټولنه اغیزه کوي، خلکو ته د معلوماتو ورکولو حیاتي دنده ترسره کوي.

" تر ټولو مهم، دوی د عامه او دولتي چارواکو لپاره د روڼتیا او حساب ورکونې د یقیني کولو په برخه کې هم اړین رول لوبوي، او همدارنګه د مهمو عامه پالیسیو په اړه باخبره بحثونو ته وده ورکوي."

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو مشر زیاته کړه: " د ښځو په ګډون، د ټولو خبریالانو او د رسنیو د کارکونکو د درناوي او خوندیتوب لپاره باید ټولې هڅې تر سره شي. ازاده او فعاله رسنۍ د هرې ټولنې د سلامتیا او هوساینې لپاره کلیدي رول ادا کوي."

د نړیوالې ټولنې په ګډون، د رسنیو له سکټور سره د تخنیکي او مالي مرستو کمښت د رسنیو سکټور نور هم کمزورى کړی دی، چې په مستقیمه توګه یې هغو معلوماتو ته د خلکو لاسرسی اغیزمن کړی، چې د دوی پر ژوند اغېز لري.

اغلې اوتنبایوا همدا راز وویل چې: " په افغانستان کې د رسنیو له سکټور سره تخنیکي او مالي مرسته او همدارنګه د بیان د ازادۍ او د عامه بحثونو د اهمیت ملاتړ د هېواد د ودې لپاره مهم رول ترسره کوي. "

***